مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاجان هاجره حرکت ۲۰۲۱/۰۶/۳۰

راشه اې وږمې د سهار

راشه اې وږمې د سهار
پورته مې له خوبه کړه

پټې د زړه تل کې مې
ویدې هیلې بیدارې کړه
پاکه ـ مې ـ د ـ ذهن
دا ـ زنګینه ـ آینه کړه
یو ـ څپه ـ د ـ میني
پر ـ احساس ـ مې
را ـ خپره ـ کړه
درد د خواخوږۍ باندې
مې ـ ولړزوه ـ زړه
پورته انساني احساس مې
راوړه ـ تر ـ لیمه
نور چې نه زورومه
دغه ځواک راکې پیدا کړه
یو ـ سپیڅلې ـ ذهن
او احساس راکې پیدا کړه
پرانیزه ـ لیمه ـ مې
د ښکلا ـ پر ـ نازکیو
خوږه ـ مې ـ پرې
د ژوند هره شیبه کړه

راشه اې وږمې د سهار
پورته مې له خوبه کړه

زه چې دا روانې چارې وینم
د انسان له نوم ویریږمه
ځکه خو یې کړنو ته

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

حیرت کې یم ډاریږمه
وړاندې وروسته اور دې
له هر څه نه بیزاریږمه
ژوند کوم، خو ژوند کې مې
جذبه او ولوله نه شته
ساه اخلم په ساه کې مې
نور هیڅ کوم نښانه نه شه
سترګې - غړومه - خو
ړوند شوې مې نظر ښکاري
هرې خوا - چې - ګورم
نړۍ راته یو ډنډ ښکاري

راشه اې وږمې د سهار
پورته مې له خوبه کړه

زړه مې د انسان له ناکردو
بې - حسه - شوې - دې
ستړې - او - ستومانه
له هر لور ناهیلې شوې دی
څومره - ناروا - چې
د بشر له خوا روان دي اوس
هومره خو وحشي ځناوران
ترې - په سوران دي ټول
نه پوهیږم دوي په دې خصلت سره
څرنګه ژوندون کوي، ژوندي ګرزي
هره ورځ په وینو د انسان
لاسونه - یې - سره - دي
لا - ګړندي - ګر زي
لار د خلاصون نه وینم
خو دومره له رب(ج) غواړمه
وښوروه - زړه - یې
دا - وحشی - احساس
ترې - وشړه
پاڅوه - ویده - ضمیر
پاڅوه - ویده - ضمیر
د سترګو کسې یې پرانیزه
یا که داسې نه کړې نو
راوله محشر له مخکې
دا نړۍ را ړنګه کړه
ویني بهوي چې د هغوي
مرکندې - ماتې - کړه
څوک چې د مظلوم په وینو

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

سره لاسونه مست ګرزي
نه شته په کې رحم دوي
لا هغسې بدمست ګرزي
ماته ـ خو لږ ـ وښايه
چې کله رانسکور به شي
ظلم د ظالم په خونړي
وربوز راټول ـ به شي
شعمې لا هم ـ سوزې
پتنګان ترې تاويدې نه شي
ګلونه ـ را ـ رژيږي
بلبلان هوسيدی ـ نه شي
ورځ مو توره شپه ده
خو د يو جرس آواز نه شته
تور ـ ښامار تاو ـ شوی
د وتلو اعتبار نه شته
يا ـ مو ـ ده بايللی
هغه لوړ سر چې راپورته شي
بيا هغه شمله پر سريې
ټول ولسونه پورته شي
نو واوره زما ربه (ج)
موږ ته حس د ژوندانه راکړه
په يوه کرشمه ويښ مو کړه
په لوړو تاترو، ښکته او پورته
انګازه د پيوستون راوړه

راشه اې وږمې د سهار
پورته مې له خوبه کړه

۷.۴.۱۴۰۰
شاجان هاجره حرکت

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ